خبریال دات کام

۲۰۱۶/۰۲/۲۹

د کونړ په ځانمرګي برید کې،
دري بې وځله لاس پلورونکې ورونه وژل شوي

د ختیځ کونړ ولایت د شنبې ورځ په ځانمرګي برید کې د یوې کورنۍ دري ورونه چې د ولایت مقام مخې ته شهید پارک سره یې چپس، یخني خوروا سوپ خرڅول او خپلو اولادونو ته به یې حلاله نفقه ګټله وژل شوي دي

د درد او غم ډکه کېسه ، دا د دریو هغه ورونو جنازې دي چې له دې وړاندې به یې هر ورځ د کونړ د ولایت مقام مخې ته په کراچیو چپس، یخني خوروا او سوپ خرڅاوه او خپلو اولادونو ته به یې حلاله نفقه ګټله

نن د دغه دریو ورونو حبیب الله، احسان الله او روح الله اته اولادونه د پلرونو په وژل کیدو چغې وهي، دلته په دې مراسمو کې هم یو ډول ویر خپور دي، د هر یوه سړي له سترګو اوښکې ځاځي.

شعیب غروال په دې اړه د یادو کسانو د جنازې په مراسمو کې خبریال ډات کام ته وویل «له وسله والو مخالفینو نه مو غوښته دا ده هغه څوک چې د دوي مخالف دي هغه څوک چې د دوي پر وړاندې یې سنګر نیولي او هغه څوک چې د دوي ټارګیټ دي د هغوي سره دې کار ولري د ولس سره دې کار نه لري»

دلبر باجوړي بیا خبریال ډاټ کام ته زیاته کړه «ټول چې په دې پېښه کې ټپیان شوي او وژل شوي ټول بې وځله خلک دي چا چاي خرڅاوه، چا چپس پخول، چا کارتونه خرڅول او ښه مثال یې دا دري ورونه دي چې چپس یې پخول او دري واړه په کې ووژل شول»

یو تن دیني عالم چې په دغه جنازه کې ګډون کړي او له ډیره درده خبري هم سمي نه شي کولای دا ډول بریدونه چې د بې وځله بې ګناه ولسي وګړو ژوند اخلي په کلکو ټکو غندي

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

سعید مومند دینی عالم بیا خبریال ډاټ کام ته وویل نبي (ص) به دا توصیه هر هغه چاته کوله چې جهاد ته لیږل ورته به یې ویل ماشومان مه وژني، عام خلک په وژني او مړي مه خرابوي دا چې اوس عام وګړي په نښه کیږي چې دولت سره هیڅ اړیکه نلري بس دا حالات خرابول دي نور هیڅ خبره نشته»

بله لورته د دغه دریو ځوانانو تره چې یو بل وراره یې ژوبل شوي او د مړه شو دوو څخه دري دري او له یوه څخه یې دوه اولادونه بې سرپرسته پاتې شول د هغو پر ویر ژاړي.

ګل اکبر چې د دغه کسانو تره دي خبریال ډاټ کام ته یې وویل «دا زما د مشر ورور ځامن دي چې چپس او سوپ یې خرڅاوه او بچو ته به یې نفقه پیدا کوله»

د یادونې وړ ده چې تېره ورځ په ځانمرګي برید کې ۱۴ تنه ووژل شول او کابو ۴۰ نور ټپیان شول چې د چارواکو په خبره ټول ولسي وګړي دي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ